AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر
۲۰۲۱/۰۴/۰۴

# زما دردمند پلار

د سرطان په رنځ اخته و، د مخه لدې چې تشخیص یې وشی ،ده د خپل ژوند څخه لاس مینځلی وو ، او ټولو ته به یې وئیل : چې زما مرګ نژدی دی ، کشران مشران به چې د ده په حضور کې ناست ول ، په دې خبره به ډیر ځوریدل ،هر چا به په خپل وار ده ته تسل ورکاوه ، چې نه لا لا داسي نه ده ته روغیږي ،د هغوي د جملې نه (داکتر سید احسان الله هیر) چې د ده د تره ځوی ، او وروسته ده ده مرګ څخه بیا تکره لیکوال او ادیب هم وو ، ده به ډیر ده ته تسل ورکاوه ، ځکه زما پلار د همیش د پاره د دوی د مجلس ګل وو ، د ده په ټوکو ټکالو به د دوي خولې په خندا سټړي شوي ، او دوی ته به یې ښې مشوری هم ورکولې ،نو ټول د کورنۍ ځلمیان چې ده ده څخه کشران ول ، ده ته به یې ډیر تسل ورکاوه ،خو هغه په زړه خوږلي وه ، کشرانو به په دې خبره پټ پټ ژړل ،ده به ټولو هغه کشرانو ته چې د ده د ترور زامن ، تره زامن او لري او نژدې او لیري خپلوان ول ،او بی ساری مینه یې د دې ټولو سره دولودله ،هغوي ته به یې ووئیل : زما بدن نیم اوبه شوي ، زه په دې پوهیږم چې زما د رنځ علاج نشته ، خپلې کډې یانې زما مور ته یې ناري کړې ، چې زما هغه عسکري د ژمی کوټ راوړه ،زما مور کوټ راوړ او ده په زحمت واغوست ،مونږه ټولو په حیرت سره وکتل چې د کوټ اوړې د ده په متو راوغورزیدی ، یانی ډیر زیات یې په ځان کې یې لوی شوی وو ،نو ټولو کشرانو ته یې مخ واړاوه ، او وی وئیل:
ما نه وئیل ، ټول غلي او متحیره ناست ول ، ده په خپله د یو نا علاجه رنځ چې په نوم یې نه پوهیده په خپل ځان کې احساس کړی وو ،ځکه په هغه وخت کې د سرطان تشخیص په افغانستان کې دومره نه کیده ، زه په دې وخت کې د آ تو کالو به وم ، زه چې ماشوم وم ، د مشرانو د خبرو څخه به می لږ تر لږه ، برداشت کولو ، زما او زما وررور او دوه خویندو ته هم پریشانه او سترګي په لاره ښکاریده ،یو څو موده وروسته یې موټر ونیو او خپل لري او نژدې دوستانو د لیدولو د پاره لمړی لغمان او ورپسي پروان ته ورغی ، ځیني دوستان یې چې په دې ولایتونو کې او بیا په تیره کابل ته نژدې ولایتونو کې پراته ول ، هغوي ته ورغی ، چې په دولتي دندو بوخت ول ، هغوي یې ولیدل ، او دا په غیر مستقیم د ده خدای پاماني وه ،څو موده پس ناروغی یې زور واخیست ، او د کابل په قوای مرکز روغتون کي بستر شو ، ډیره خپلوان او دوستان به ورتلل،تر څو چې تره می مرحوم سید عباس پاچا د ځان سره مزارشریف ته بوته ، هلته زما د مرحوم تره سید عباس پاچا کور وو ، تره می په دولتی دنده بخت وو ، د وخت لوی طبیبان به ورته راتلل ،مرحوم تره می د ده د تداوی په هکله ډیر کوششونه وکړل ، خو وروسته د څو میاشتو د مرض سره د مقابلې څخه دردمند پلار می وفات شو ،روح دې ښاد وي ،او جنازه یې په ډیر درنښت پورته شوه ، چې زما مرحوم تره(سید عباس پاچا) به ووئیل : چې دومره لویه او شانداره جنازه ما نه وه لیدلې.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ